مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۶ / ۰۹ / ۳۰

# د مراکش امیرالمؤمنین، یوه مېرمن صدراعظمه وټاکله


فاطمة الزهراء المنصوري

ځینې تاریخي پېښې یوازې یو عادي خبر او د یوې ورځپاڼې ساده سرلیک نه وي؛ بلکې انسان اړ باسي چې یوه شیبه ودرېږي، شاته وګوري او له ځانه وپوښتي؛ موږ چېرته ولاړ یو او نړۍ چېرته؟ د مراکش له پلازمېنې، الرِباط څخه تېره ورځ داسې خبر خپور شو چې په عربي او اسلامي نړۍ کې ځانګړې معنا لري. د مراکش پاچا محمد السادس، پنځوس کلنه فاطمة الزهراء المنصوري د حکومت د مشرې په توګه وټاکله؛ نوموړې د دې هېواد په تاریخ کې لومړنۍ صدراعظمه ده.

د مراکش د اساسي قانون له مخې، پاچا د ولسي جرګې له ټاکنو وروسته د هغه سیاسي ګوند له منځه د حکومت مشر ټاکي چې په ټاکنو کې تر ټولو ډېرې څوکۍ ترلاسه کړې وي. د تېرې اونۍ په ټاکنو کې چې د ولسي جرګې د ۳۹۵ څوکیو لپاره ترسره شوې، د فاطمې «اصالت او معاصریت ګوند» ۹۷ څوکۍ وګټلې چې د نورو ګوندونو په پرتله ډېرې دي. مراکش شاوخوا ۳۹ میلیونه نفوس لري، سیاسي نظام یې مشروطه شاهي دی او د مشرانو جرګه یې ۱۲۰ غړي لري.

د دې مېرمنې صدارت ځکه د پام وړ دی چې د مراکش ټولواک یوازې یو سیاسي پاچا نه دی؛ بلکې هغه د اساسي قانون له مخې «امیرالمؤمنین» دی او د اسلامي دین د ساتنې او د مذهبي چارو د ځانګړو صلاحیتونو مسؤلیت هم لري. د مراکش علوي سلطنت خپل نسب د « اشرافو / سیدانو » له کورنۍ سره تړي او ځان د علي کرم الله وجهه اولاده بولي؛ البته دوئ مالکي مذهبي سنیان دي. دغه دیني مشروعیت او د اهل بیتو د نسب سره تړاو د مراکش د سیاسي او مذهبي جوړښت مهم عناصر دي.
له ۱۶۳۱م کال راهیسې دلته علویان په واک کې دي چې د نړۍ ترټولو پخوانۍ شاهي کورنۍ ګڼل کېږي.

د مراکش اساسي قانون د ښځو او نارینه وو د مدني، تعلیمي، سیاسي او ټولنیزو حقونو د برابرۍ اصل په رسمیت پېژني. د یوې مراکشۍ مېرمنې صدراعظم کېدل یوازې د یوې ښځې شخصي بریا نه ده؛ بلکې په عامه ژوند کې د یو حقوقي بهیر ځرګندونه ده. مراکش لا ډېر پخوا، په ۲۴۵هجري کال کې یوه تاریخي پاڼه اړولې ده. یوې ۲۵ کلنې پېغلې، فاطمه الفهریة د فاس ښار کې د القرویین د تعلیمي مرکز بنسټ کېښود. دغه علمي مرکز وروسته د نړۍ لومړنۍ پوهنتون وبلل شو چې اوس د القیروان په نوم پېژندل کېږي. جالبه ده، یوه فاطمه د یو پوهنتون د بنسټ ډبره ږدي او بله فاطمه یولس پېړۍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وروسته د حکومت مشره ټاکل کيږي. تاريخ به حتما وليکي چې د مراکش «اميرالمؤمنين» د يوې وکيلې پر کمزورو اوږو د حکومت د درانه بار د اېښودلو زمينه برابره کړه.

همدا نن په ډېرو اسلامي هېوادونو کې ښځې پوهنتونونو ته ځي ترڅو ډاکټرانې، استادانې، قاضيانې، وکيلانې، وزيرانې شي او د پارلمان غړيتوب ترلاسه کړي. د قرآن کريم لومړنی نازل شوی آيت د لوستلو په حکم « اقرأ ــ ولوله » سره پيلېږي چې خطاب يې نر او ښځې ته په يو ډول دی. خو د نړۍ په ځينو سيمو کې لا هم نجونې له لوړو زده کړو څخه محرومې دي. يونسکو وايي چې په ټوله نړۍ کې له ۱۳۳ ميليونو څخه ډېرې نجونې له ښوونځيو بهر دي چې فقر، کم عمره ودونه، جنسيتي تبعيض او تاوتريخوالی يې له مهمو عواملو څخه دي.

تر دې وړاندې، په بنګله دېش کې شيخ حسينه او خالده ضياء، په پاکستان کې بېنظير بوټو، په ترکيه کې تانسو چيلر او په تونس کې نجلاء بودن او سارة الزعفراني د حکومت د مشرۍ تر لوړو مقامونو رسېدلې دي. خو موږ لا هم په دې شش او پنج کې بند پاتې يو چې ښځه خو د کور او ګور لپاره پيدا ده؛ نو دا ناقص العقل مخلوق به څنګه د حکومت او سياست درووند بار پر اوږه واخلي، ګمبېرى او ګني؟
الله مې دې زاړه ايمان ته خير کړي!



د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ